۱۴ ۱۵ ۱۴ بني بغواي دوه زره او شپږ پنځوس ۱۵ بني عادين څلور سوه
۱۶ ۱۷ څلور پنځوس ۱۶ بني آطير له يحزقياه نه اتۀ او نوي ۱۷ بني
۱۸ بيصاي دري سوه او دري ويشت ۱۸ بني يوراه يو سل دولس
۱۹ ۲۰ ۱۹ بني حاشوم دوه سوه او دري ويشت ۲۰ بني جبّار پنځه
۲۱ نوي ۲۱ بني بيت لحم يو سل او دري ويشت ۲۲ د نطوفاه
۲۲ ۲۳ کسان شپږ پنځوس ۲۳ د عناتوت کسان يو سل او اتۀ ويشت
۲۴ ۲۵ ۲۴ بني عزماويت دوه څلويښت ۲۵ بني قريت عاريم کفيره او
۲۶ بئيروت اوه سوه او دري څلويښت ۲۶ بني رامه او جبع شپږ
۲۷ سوه او يو ويشت ۲۷ د مکماص سړي يو سل او دوه ويشت
۲۸ ۲۸ د بيت ايل او د عاي کسان دوه سوه او دري ويشت
۲۹ ۳۰ ۲۹ بني نبو دوه پنځوس ۳۰ بني مغبيش يو سل او شپږ پنځوس
۳۱ ۳۲ ۳۱ بني عيلام اخران يو زر او دوه سوه او څلور پنځوس ۳۲ بني
۳۳ حاريم دري سوه او شل ۳۳ بني لود حاديد او اونو اوه سوه او
۳۴ ۳۵ پنځه ويشت ۳۴ بني اريحاه دري سوه او پنځه څلويښت ۳۵ بني
۳۶ سناءه دري زره او شپږ سوه او ديرش ۳۶ کوهينان بني يدعياه
۳۷ د يشوع د کور نو سوه او دري اويا ۳۷ بني امير يو زر او دوه پنځوس
۳۸ ۳۹ بني فشحور يو زر دوه سوه او اوه څلويښت ۳۹ بني حاريم يو
۴۰ زر او اوه لس ۴۰ هغه لاويان بني يشوع او قدميل له بني
۴۱ هُدوياه څلور اويا ۴۱ هغه سرود گران بني آساف يو سل او
۴۲ اتۀ ويشت ۴۲ د دروانانو اولاد بني شلوم بني اطير بني طلمون
بني عقوب بني حطيطا بني شوباى هغه ټول واړه يو سل او نه
۴۳ ديرش ۴۳ هغه نتينيم بني ضيحا بني حسوفا بني طبّاعوت
۴۴ ۴۵ ۴۴ بني قيروت بني سيعها بني فادون ۴۵ بني لبانه بني حجابه
۴۶ ۴۷ بني عقوب ۴۶ بني حاجاب بني شملي بني حانان ۴۷ بني
۴۸ جديل بني جحار بني رأيا ۴۸ بني رخين بني نقودا بني جزّام

۴۹

وویل چه تاسي ته د دي بیت د بنا کولو او د دي دیوالونو
د پوره کولو حکم خوند شاه چا کړي دي؟ ۱۰ او د هغو د ۱۰
نومونو پښتنه موهم وکړه چه در وی ښیو چه د
هغو کبروانو نومونو ولیکو چه د دوي سرداران وو
۱۱ او دوي داسي پیغام راپوهولو ویل ئي چه مونږ د آسمان ۱۱
او د زمکي د الله هغه بندګان یو او دا بیت بنا کوو چه
له قدیمو کالونو نه ډیر وړاندي بنا شوي وه او دغه دا اسرائیل
یوه لوي بادشاه بنا کړ او پوره ئي کړ ۱۲ مګر پس له هغه چه ۱۲
څمونږ پلرونو د آسمان الله په غصه کړ نو دوي ئي د
نبوکدنځر بادشاه د بابل په لاس ورکړل هغه کسدي
چه دا بیت ئي سترړه کاوه او امّت ئي بابل ته په بند بوت
۱۳ لیکن په اوّل کال د کورس بادشاه چه د بابل بادشاه وه ۱۳
کورس د دي بیت الله د بنا کولو حکم خوند وکړ ۱۴ او هم ۱۴
د دي بیت الله د سرو او د سپینو زرو لوښي چه نبوکدنځر
له هغه هیکل چه په اورشلیم کښي وه بیستلي وو او هغه
هیکل ته چه په بابل کښي وه ئي وړي وو کورس بادشاه
هغوي له هغه هیکل چه په بابل کښي وه راوبیستل او یو
شیشبځر نومي ته چه ده پیشوا کړي وه وري کړل ۱۵ او ۱۵
هغه ته ئي وویل چه دا لوښي واخله روان شه او هغه
هیکل ته ئي ور وړه چه په اورشلیم کښي دي او بیت الله
د په خپل ځاي بنا کړي شي ۱۶ پس له دي دغه شیشبځر ۱۶
راغي او بنیاد د بیت الله چه په اورشلیم کښي دي ئي اساس
کیښود او له دغه وقت تر اوسه پوري بنا کیږي او لا سلیم
نه دي ۱۷ او اوس که د بادشاه په نزد ښه وي نو د بادشاه په ۱۷
خزاني کښي چه هلته په بابل کښي ده تالاش د وکړي شي

نارينه ۱۳ اوله بني ادونيکام ورستني وال او دهغو دا نومونه ۱۳
دي اليفاط او يعئيل او شمعياه او دوي سره شپيته نارينه
۱۴ اوله بني بغواي عوتاي او زبود او ورسره اويا نارينه ٭ ۱۴
۱۵ او ما دوي دهغه رود په لوري چه اهاوا ته بهيږي جمع کړل ۱۵
او هلته درې ورځې ډېره شولو او ما په امّت او په کوهينان بينا
شولم ليکن د لاوي له زامنو م هلته و نه موند ۱۶ نو ما سړي ۱۶
واستاوه د اليعزر او د اريئيل او د شمعياه او د الناثان او د
ياريب او د الناثان او د ناثان او د زکرياه او د مشلام د پاره
چه سرداران وو او د يواريب او د الناثان د پاره چه فهمناک
وو او رالېږ و بلل ۱۷ او دوي م په ادّو باندې چه په هغه ځاي ۱۷
کاسفيا سردار وه فرمان وکړ او د دوي په خولو کښې م
هغې خبرې کېښودلې چه ادّو ته او د ده وروڼو هغه نتنيم
ته په هغه مکان کاسفيا کښې خبره پرِ وکړي چه د الله ځمونږ
د بيت د پاره مونږ لره خدمتکاران مونږ لره راولي ۱۸ نو دوي ۱۸
مونږ ته موافق د لاس د الله ځمونږ چه په مونږ باندې ښه
وه يو هوشمند سړي راوست له بني محلي بن لاوي بن
اسرائيل؛ او شربياه او د ده زامن او د ده وروڼه اته لس
۱۹ او حشبياه او ورسره يشعياه له بني مراري نه او د دوي ۱۹
وروڼه او د دوي زامن شل ۲۰ او له نتنيم نه هغوي چه ۲۰
داؤد او د ده سردارانو د لاويانو د خدمت د پاره مقرر
کړي وو له نتنيم دوه سوه او شل دغه ټول په خپلو
خپلو نومونو سره لقب شوي وو ۲۱ او ما هلته په رود باندې ۲۱
داهاوه د روژې لره منادي وکړه چه مونږ د خپل الله
د وړاندې خپلو ځانونو اندوهګين وکړو چه له ده نه يوه
راسته لار ځانونو لره او ځمونږ تيې کيو او ځمونږ ټول مال

زامنو د پاره نيولي دي او پاک تخم ئې د زمکي له قومونو سره
گډ کړي دي او سردارانو او د حاکمانو لاس به دي خيانت
کښې اوّل شوي دي ۳ او چه ما دا خبره واوريده نو خپلي جامي ۳
او خپل چادر مې څيري کړ او د خپل سر او بيري ويښته مې ويستل
او حيران کښيناستم ۴ نو هغوي ټول چه د اسرائيل د الله ۴
له کلام نه لړزيدل د هغه جلاوطني په هغه خيانت باندې
ما ته را ټول شول او زه نماښام تر هديې پوري حيران ناست
وم ۵ او د نماښام د هديې په وقت له خپل اندوه کولو پورته ۵
شوم او ځما په جامو او په څادر کښې چه څيري کړي شوي وې
په زنگونو مې رکوع وکړه او يهوه الله خپل ته مې ورغوي وغوړولي
۶ او ومې ويل اي ځما الله زه خو شرميږم او ستا په لوري ۶
د مخ په پورته کولو خجل کيږم اي ځما الله ځکه چه گناهونه
ځمونږ پاس په سرونو ځمونږ ډير شول او ځمونږ گرموالئ
آسمان ته لوي شولي ۷ ځمونږ د پلرونو له ورځو ترنن ورځې ۷
پوري په لويي گرموالئ يو او ځمونږ د گناهونو په سبب مونږ
او ځمونږ بادشاهان او ځمونږ کوهينان د زمکو د بادشاهانو
په لاس په توري او په بنديواني او په لوټ او په زړ روي
ورکړي شولو لکه نن ورځ ۸ او اوس له لږ لحظي نه د ۸
خداوند ځمونږ د الله له نزد نه فضل وه چه مونږ لره يوه
خلاصي باقي پريږدي او په خپل مقدس مکان کښې يو
ميخ را کړي تا چه ځمونږ الله ځمونږ سترگي روښانه کړي
او ځمونږ په غلامي کښې مونږ ته لږ څه د ژوندون ساتنه را کړي
۹ ځکه چه مونږ غلامان وو مگر ځمونږ الله مونږ ځمونږ ۹
په غلامي کښې نه پريښودلو بلکه په مونږ باندي د فارس
د بادشاهانو د وړاندي مهرباني اوږداوه تا چه مونږ ته د

د زرګر د نشنیم او د سوداګرانو تر کوره پوري د همفقاد د
دروازي تر برابر پوري د ګرزیدني تر ختني بوري مرمت کاوه
۳۲ ۳۲ او د ګرزیدني د ختني له میتخ د وزو تر دروازي پوري
زرګرانو او سوداګرانو مرست کاوه *

# څلورم باب

۱ ۱ او داسي وشوه چه سنبلط واوریدل چه مونږ د دیوال
بنا کونکي یو نو ورته سیخته راغي او ډیر په غصه شه او په
۲ یهودیانو پوري ئې توقي کولي ۲ او د خپلو ورونړو او د سامریانو
د لښکر د وړاندي خبري کولي ویل ئې چه دا سرتیتوال یهودیان
څه کوي دوی ته اجازت شه څه؟ دوی به ذبیحي وکړي څه؟
دوی به یوي ورځي بوره کوي څه؟ دوی به د وري له
تودي نه کاڼي ژوندي کړي څه؟ او هغه هم سوي دي
۳ ۳ او توبیاه هغه عموني د ده په څنګ کښې وه او وئې
ویل چه دوی ئې بنا کونکي دي چه که یو شغال ور باندي
۴ وخیژي نو د دوی د دیوال کاڼي ونړیږي ۴ واوره ای
څموږ الله ځکه چه مونږ بوزیان ګڼلي شوي یو
او د دوی ملامتیا د دوی په سرونو ور وګرزوه او د
۵ بندیواني په زمکي کښې ئې لوټ ته ورکړه ۵ او ته د
دوی ګناه مه پټوه او ستاد وړاندي د دوی خطاوي
مه محوي کوه ځکه چه دوی د بنا کونکو د وړاندي ته
۶ په غضب کړی یي ۶ نو مونږ دیوال بنا کړ او ټول دیوال تر
نیمي پوري سره بندونه پیوست وه ځکه چه امت
لره د عمل کولو زړه وه *
۷ ۷ او چه سنبلط او طوبیاه او هغو عربو او هغو عمونیانو

کار کَیا وو او نیمو به برچې او ډالونه او لیندي او زغرې
نیونکې وو او سرداران به د یهوداه د هرکور د ورستو
۱۷ موجود وو ۱۷ هغو بنا کونکو په دیوال او بار وړونکو چه
بارونه به يې ليږدل د دَه په يوه لاس به يې کار کاوه او
۱۸ په بل لاس به يې وسله نيولې وه ۱۸ او معمارانو به هر
سړي خپل توره د دَه په ملاؤ پورې تړلې وه بنا کونکي
۱۹ او تورنګ وهونکي څما په څنګ کښې وه ۱۹ نو ما ميرانو
او حاکمانو او نور امّت ته وويل چه کار ډېر او کشاده دې
او مونږ په ديوال باندې پرت ورايه يو او هر سړي له خپل
۲۰ ورور لرې ۲۰ نو په هغه ځاي چه تاسي ورنه د قرنا آواز
واورئ نو هلته مونږ لره راټولیږئ څمونږ الله به څمونږ
۲۱ د پاره وجنګيږي ۲۱ نو مونږ کار کاوه او نيمو د دوي به د
لوي سحر له ختلو نه د ستوريو تر وتلو کيدلو پورې برچې
۲۲ نيونکې وو ۲۲ هم په دغه وقت ما امّت ته وويل چه هر
سړي دِ له خپل نوکر سره د اورشليم په مينځ کښې شپه
تيروي چه دوي مونږ لره په شپه نګهبان وي او د ورځې
۲۳ کار کوي ۲۳ نو نه به ما او څما وروڼو او څما نوکرانو او
د نګهبانو کسانو چه څمونږ ورستوال وو جامې خپلې باسلې
هر سړي به له خپلې درستي سره اوبو ته ورته

## پنځم باب

۱ ۱ او د امّت او د دوي ښځو په يهوديانو وروڼو د هغوي
۲ لوي فرياد وشه ۲ ځني وو چه ويونکي شول چه څمونږ
زامن او لوڼړي ډيردي مونږ دِ غله واخلو چه وئ خورو
۳ او ژوندِي اوسو ۳ او ځني وو چه ويونکي شول چه مونږ

٨ واورولي شي نو اوس راشه چه مصلحت سره وکړو ٨ نو ما
ور واستاوه و م ويل چه د دي خبرو په شان چه ته ئې
وايې شوي نه دي بلکه ته ئې له خپل زړه نه تړلې ئې
٩ ٩ ځکه چه دوي ټولو موږ ويرولو ويل ئې چه د دوی لاسونه
به له کار نه سست شي او هغه به جوړ کړي نه شي او
اوس اې څما الله ته زما لاسونه مضبوط کړه ×
١٠ ١٠ او زه د شمعياه بن دلاياه بن مهيطبئيل کور ته
ننه وتم او هغه بند کړي شوي وه او هغه وويل راشئ چه
موږ بيت الله ته د هيکل مينځ ته ور بورجل کوو او د
هيکل دروازې ډپورې کړو ځکه چه دوي راځي چه تا قتل کړي
١١ هو به شپې کښې به راشي چه تا قتل کړي ١١ نو ما وويل چه
څما په شان سړي د وتښتي څه؟ او څوک څما په شان
دې چه هغه هيکل ته ور ننه وزي او ژوندي پاتې شي زه
١٢ نه ننه وزم ١٢ او ما وپيژاند او گوره چه الله هغه نه واستاوه
بلکه په ما باندې ئې دا نبوت خبره وکړه او طوبياه او سنبلط
١٣ هغه په کراهه اخستلي وه ١٣ او هم د دې د پاره ئې په کراهاه
اخستلي وه چه زه وويرېږم او داسې په عمل راوړم او خطا
وکړم او دوي لره يو بدنام وشي چه څما ملامتيا وکړي
١٤ ١٤ اې څما الله طوبياه او سنبلط د دوي د دغو عملونو په
موافق او نوعديه هغه نبيه او نور نبيان چه څما
ويرونکي دي په ياد کړه ×
١٥ ١٥ او په پنځه ويشتم د ايلول په دو پنځوس ورځو کښې
١٦ هغه ديوار سالم شه ١٦ او داسې وشوه چه ټولو دښمنانو
څمونږ واوريدل او واړو قومونو چه څمونږ په گردگرد وو وليد
نو دوي ډير په سترگو کښې پريوتل او پوه شول چه څمونږ
١٧ د الله له لوري دا کار په عمل شه ١٧ او هم په دغو ورځو کښې

چه نبوکدنځر بادشاه د بابل جلاوطن کړي وو او اورشليم
او يهوداه ته را وجاروتل هر سړي خپل ښهر ته ۷ هغه چه له ۷
زروبابل سره راغللي وو يشوع نحمياه عزرياه رعمياه نحماني
مردکاي بلشان مسپارث بغواي نحوم او بعناه شمار د
کسانو د اسرائيل سره ۸ بني پرعوش دوه زره يو سل ۸
او دوه اويه ۹ بني شفطيا دري سوه او دوه اويا ۱۰ بني ارح ۹ ۱۰
شپږ سوه او دوه پنځوس ۱۱ بني فحت مواب له بني يشوع ۱۱
نه او يواب نه دوه زره او اته سوه او اته لس ۱۲ بني ۱۲
عيلام يو زر دوه سوه او څلور پنځوس ۱۳ بني زتو اته سوه ۱۳
او پنځه څلويښت ۱۴ بني زکاي اوه سوه او شپيته ۱۵ بني ۱۴ ۱۵
بنوي شپږ سوه اته څلويښت ۱۶ بني ببياي شپږ سوه ۱۶
اته ويشت ۱۷ بني عزجاد دوه زره او دري سوه او دوه ۱۷
ويشت ۱۸ بني ادونيقام شپږ سوه اوه شپيته ۱۹ بني بغواي ۱۸ ۱۹
دوه زره او اوه شپيته ۲۰ بني عادين شپږ سوه او پنځه ۲۰
پنځوس ۲۱ بني آطير د حزقياه اته نوي ۲۲ بني حاشوم ۲۱ ۲۲
دري سوه او اته ويشت ۲۳ بني بيځی دري سوه او څلير ۲۳
ويشت ۲۴ بني حاريفا يو سل او دوه لس ۲۵ بني جبعون ۲۴ ۲۵
پنځه او نوي ۲۶ د بيت لحم کسان او د نطوفه يو سل او ۲۶
اته اتياه ۲۷ د عناتوث کسان يو سل او اته ويشت ۲۷
۲۸ د بيت عزماوث کسان دوه څلويښت ۲۹ د قريت يعاريم ۲۸ ۲۹
کسان او د کفيره او د بئيروت اوه سوه او دري څلويښت
۳۰ د رامه او د جبعه کسان شپږ سوه او يو ويشت ۳۱ د ۳۰ ۳۱
مخماس کسان يو سل او دوه ويشت ۳۲ د بيت ايل ۳۲
کسان او د عاي يو سل او دري ويشت ۳۳ او د بل ۳۳
نبو کسان دوه پنځوس ۳۴ د هغه بل عيلام زامن يو زر ۳۴

ته دننه وروړو او د خپلو خاورې عشر لاويانو ته تا چه
لاويان په هغه ښهرونو کښې چه مونږ په کښې مشقت
کوو عشر اخلي ۳۸ او چه لاويان عشر اخلي نو هغه کوهن ۳۸
ابن هارون دِ له لاويانو سره وي او لاويان دِ عشر
د عشرونو څمونږ د الله د بيت خونو ته بيت المال ته
ور وړي ۳۹ ځکه چه بني اسرائيل او بني لوي دِ د غلې ۳۹
او د شيرې او د تازو تيلو پورته کړې قرباني و خونو ته ور
وړي چه هلته د پاکي لوښي او هغه کوهينان خدمتکاران
او دروان او سرودګران دي او مونږ دِ خپل الله کور ترک
نه کړو *

## يوولسم باب

۱ او د قوم سرداران په اورشليم اوسيدل او باقي امّت ۱
زړهسک واچاوه چه له لسو دِ يو راولي چه په اورشليم
کښې و اوسي هغه مقدّس ښهر او هغه نه نوري فرقي
دِ په نورو ښهرونو کښې ۲ او امّت هغو ټولو کسانو ته ۲
چه ځانونه ځارول چه په اورشليم کښې اوسي برکت
ورکړ ۳ او دا د هغه صوبې سرداران دي چه په اورشليم ۳
اوسيدل او د يهوداه په ښهرونو کښې هر يو په خپل اخستي
کښې په خپل خپل ښهر کښې اسرائيل هغه کوهينان
او لاويان او نثنيم او د سليمان د نوکرانو اولاد اوسيدل
۴ او له بني يهوداه او له بني بنيامين ځني په اورشليم ۴
کښې اوسيدل له بني يهوداه اعثاياه بن عزّياه بن
زکرّياه بن امرّياه بن شفطياه بن مهلليل له بني فارخ
۵ او معسياه بن باروک بن کلحوزه بن حزاياه بن عداياه ۵

کښې او سیدل او څیحا او جشپا په نثنیم باندي وو
۲۲ ۲۲ او د لاویانو مختار په اورشلیم کښې عزي بن باني بن
حشبیاه بن متنیاه بن میکا له بني آساف سرودګران
۲۳ د بیت الله په کار باندي ۲۳ ځکه چه د بادشاه حکم په دوي
باندي دا وه چه په سندري ویونکو باند د هري هري
۲۴ ورځي خبري اسانتداري وي ۲۴ او فتحیاه بن مشیزبئیل
له بني زرح بن یهوداه په ټولو خبرو د امّت کښې د بادشاه
۲۵ د لاس څخه وه ۲۵ او په حصارونو د هغو په پټو کښې له بني
یهوداه نه په قریت اربع کښې او د هغو په کلیو کښې او په
دیبون او د هغو په کلیو کښې او په یقبځئیل او د هغه په
۲۶ حصارونو کښې اوسیدل ۲۶ او په یشوع او په مولاده او په
۲۷ بیت پالط کښې ۲۷ او په حصرشوعال کښې او په بیرسبع
۲۸ او د هغو په کلیو کښې ۲۸ او په څقلغ او په مکونه او د
۲۹ هغه په کلیو کښې ۲۹ او په عین رمون او په څرعاه او په
۳۰ یرموث ۳۰ زانوح عدلام او د دغو حصارونو کښې او په
لخیش او د هغه په کلیو کښې او عزیقه او د هغه په کلیو
کښې : دوي له بیرسبع نه د هنوم تر خوري پوري
۳۱ ارام کاوه ۳۱ او بني بنیامین له جبع نه تر مخماش او
۳۲ عیاه او بیت ایل او د دغو تر کلیو پوري ۳۲ عناتوث نوب
۳۳ ۳۴ عننیه ۳۳ حاځور رامه جتایم ۳۴ حادید څبوعیم نبلاط
۳۵ ۳۶ ۳۵ لود او اونو د تراشانو په خوري کښې ۳۶ او له لاویانو
د یهوداه له حلقونو څني بنیامین لره وو ⁂

## دوولسم باب

۱ آ او دا هغه کوهنیان او لاویان دي چه له زروبابل بن شالتئیل

او

ده د څوي سليمان ۴٦ ځکه چه د داؤد او د آسف ۴٦
په ورځو کښې له قديم نه سردارد سرودګرانو وه او د الله
د ثنا او د حمد سرودونه به وو ۴٧ او ټول اسرائيل به ۴٧
د زربابل په ورځو کښې او د نحميه په ورځو کښې د سرود-
-ګرانو او د دروانانو د هري ورځي نبري د هغه په ورځ کښې
ورکولي او دوي به د لاويانو د پاره مقدس کاوه او
لاويانو به د بني هارون د پاره مقدس کاوه ※

# ديارلسم باب

١ او په دغې ورځي کښې دوي د موسیٰ په کتاب کښې ١
د امت په غوږونو کښې لوستل کاوه او په هغه کښې
دا ليکلي منديي شول چه عموني او موابي به د الله په
جماعت کښې ترابده پوري داخل نه شي ٢ چه دوي به ٢
ډوډۍ او په اوبو سره د اسرائيل قدم مخې ته نه ورغلل
بلکي دوي بلعام د دوي د پاره په کرايه واخست چه په
دوي باندي لعنت وکړي او څمونږ الله هغه لعنت برکت
وګرزاوه ٣ او داسي وشوه چه دوي هغه توريت واوريده ٣
نو ټول ور سره ګډ شوي له بني اسرائيل ئې جدا کړ
٤ او وړاندي له دي نه الياشيب هغه کاهن چه څمونږ د الله ٤
د کور په خوني ودرولي شوي وه له طوبياه سره ئې خويشي
وه ٥ او ده د هغه د پاره يوه لويه خونه سازه کړي وه او ٥
هلته وړاندي به ئې د نذر قرباني او خوشبوئي او کالي د
لوښي او د غلي عشر او شيره (او تيل) به ئې کيښودل چه د لاويانو
او د سرودګرانو او د دربانانو او د کوهينانو پورته کړي قرباني
فرضي مقرري وو ٦ او په دغو ټولو (وقتونو) کښې زه په اورشليم ٦

وستي هغه ملکه دِ د ده دوړاندي راوستله شي او دا نه ورغله
نو به خپل میړونه په خپلو سترګو کښي بوزي بنده وګڼړي
١٨ اونن ورځ ټولي ببیاني د فارس او د مادي چه د ملکي ١٨
خبره واوري ټولو سردارانو د بادشاه ته به داسي ووايي او
داسي شان خبره سپکاوي او بیزاري ده ١٩ نوکه د بادشاه په ١٩
نزد ښه ښکاریږي نو شاهانه فرمان دِ ستا له نزد صادر شي
او هغه دِ د فارس او د مادي په داد کښي ولیکلي شي چه
نه تغیر کیږي چه وشتي ملکه دِ بیا د بادشاه احشویروش
په حضور نه راځي او بادشاه دِ د دي مملوکت یوي سهیلي ته
چه له دي ښه وي ورکړي ٢٠ او چه د بادشاه پیغام چه ئي ٢٠
به عمل کوي په ټولو بادشاهي کښي ئي واوروِلي شي (ځکه چه
دغه لویه ده) نو به ټولي ښځي خپلو میړونو ته کرامتیا ورکوي
له لوي نه تر وړوکي پوري ٢١ او دا خبره د بادشاه او د ده ٢١
سردارانو په سترګو کښي ښه ښکاریده او بادشاه د مموکان
د ویلو په شان وکړل ٢٢ او ټولو صوبو د بادشاه ته ئي خطونه ٢٢
واستول هري صوبي ته د هغو صوبو د لیکلو په شان او قوم
ا قوم د هغو د ژبي په شان چه هر سړي دِ په خپل کور
سرداري کړي او د خپل قوم د ژبي په موافق خبري وکړي

## دویم باب

آپس له دي خبرو چه د احشویروش بادشاه غضب ١
په سکونت شه نو ده وستي او هغه څه چه دی کړي
وو او چه ده د هغي په باب فرمايلي وه په یاد کړل ٢ نو د ٢
بادشاه نرانو چه د ده خدمت ئي کاوه وئ ویل چه د بادشاه
د پاره دِ ښاښته ځواني پیغلي ولټولي شي ٣ او بادشاه دِ ٣

ور باندِ نه وکابرِي او ده قبول نه کړل ۵ نو آستر هتک چه یو ۵
له خوجګانو د بادشاه · چه د دي د وړاندي ئې ودرولي وه
و باله او به مردکي باندِ ئې حکم ورکړ چه دا پوه شي چه دا
څه دي او یه څه باندِ دي ۶ نو هتاک مردکي ته ورووت ۶
د ښهر یه هغه چوک کښِ چه د بادشاه د دروازي د وړاندِ
وه ۷ نو مردکي هر هغه څه چه ورته پیښ شه هغه ته څرګنداو ۷
او ځنت هغه نقل چه هامان د یهودو د بربادولو د پاره یه
ګنجونو باندِ د تول کولو امر کړي وه ۸ او هغه نقل د هغه ۸
فرمان ئې هم ورکړ چه د دوي د هلاکولو د پاره ئې یه سوس
کښ ورکړي وه چه آستر ته ئې ور ښکاره کړي او څرګنده
ئې کړي او چه ور باندِ تاکید وکړي چه بادشاه ته دِ ننه ووزي
او زاري د زړه سوي ورته وکړه او ورنه یه خپل قوم باندِ د ده
د وړاندِ سوال غواړي ۹ نو هتاک راغي او آستر ته ئې د مردکي یه ۹
خبرو څرګنداوه ۱۰ نو آستر هاتک ته وویل او حکم ئې مردکي ته ۱۰
ورکړ ۱۱ چه ټول سریونه د بادشاه او د بادشاه د صوبو قومونو ۱۱
یوهیږي چه هر سړي یا ښځه چه بي له بللو اندروني غولي د
بادشاه ته ورشي نو د هغه د مړکولو یو داد دی بي له هغه
چه بادشاه امسا زرین ور اوږده کړي نو هغه به ژوندي پاتي
شي او زه یه دغو دیرشو ورځو کښِ بادشاه ته د ورننه وتلو
د پاره بللي شوي نه یم ۱۲ او هغو مردکي د آستر یه خبرو څرګنداو ۱۲
۱۳ نو مردکي وویل چه آستر دِ څواب ورکړي شي چه ته خپل ۱۳
ځان سره مثال مه کوه چه له ټولو یهودیانو نه به زه د
بادشاه یه کور کښِ خلاص شم ۱۴ ځکه چه که ته یه دي ۱۴
وقت کښِ ټپ ګنګي سره ګنګ اوسي نو یهودو د پاره به
فراخي او خلاصي له بله سکانه ودریږي او ته او ستا د پلار کور به

له مینځ نه تېرېدلي نه شي او نه د دوی ذکر د دوی له اولاد
۲۹ شوکولي شي ۲۹ او آستر ملکې لور د ابیحایل او مردکي هغه یهودي
په ټول زورتیا سره ولیکل چه د دوی دویم خط د پوریم قایم
۳۰ کړي ۳۰ او هغه خطونه ئې د احشویروش د بادشاهت
یو سل اووه ویشتو صوبو ته ټولو یهودو ته د سلامتي او
۳۱ د امان په خبرې واستول ۳۱ چه دغه ورځې د پوریم په
خپلي خپلي زماني کښې قایم کړي لکه چه مردکي هغه یهودي
او آستر هغه ملکه په دوی باندې قایم کړ او لکه چه دوی
په خپلو ځانونو باندې او په خپل اولاد باندې قایم کړي وو خبره
۳۲ د روژه د لري او د دوی د ناري ۳۲ او د آستر له امر سره
د دې خبرې د پوریم قایمي شولي او په کتاب کښې ولیکلي
شول ※

## لسم باب

۱ آ او احشویروش هغه بادشاه په زمکې او د دریاب په جزیرو
۲ باندې خراج مقرر کړ ۲ او د ده د زورتیا او د جبارت ټول عمال
او د مردکي د لوئي جنبت بیان چه بادشاه ورلوی کړ دغه
خو د مادي او د فارس د بادشاهانو د روزنامې په کتاب کښې
۳ لیکلي نه دي څه؟ ۳ ځکه چه مردکي هغه یهودي په دویمه
درجه کښې له احشویروش بادشاه سره وه او د یهودو په
مینځ کښې لوی وه او د خپلو ډیرو ورونړو په رضا وه او
د خپل اُمت د نیکي غوښتونکی وه او د خپل ټول اولاد
د پاره د سلامتي ویونکی شه ※

تمام شه